## مطبوعاتی اعلامیه

# مه پرېږدئ چې د ملتپالنې ټوټه کوونکې اړیکه مو د کشمیري مسلمانانو د اوښکو په ځواب کې د فوځي اقدام مخه ونیسي

جنرال باجوه د ۲۰۱۹م کال د اکتوبر پر ۱۶مه د کنټرول پر کرښه د پرتو سرتېرو څخه د لېدنې پر مهال وویل: «کشمیریان په IOJ&K کې د هند له سختې محاصرې او ظلم سره لاس او ګرېوان دي. موږ باید دوی یوازې پرېنږدو او په هر قېمت باید خپل رېښتینی رول ولوبوو.» په حقیقت کې د خپلواکۍ په دغه جګړه کې د باجوه-عمران د دولت زړه نازړه توب او زموږ د پیاوړو ځواکونو ایسارول د مظلومو کشمیري مسلمانانو د یوازې پرېښودلو په معنا دي. دغه دولت د کشمیر مسلمانان د نشنلېزم په پلیتې ناروغۍ اخته کړي او توکم او سرحدي کرښو ته یې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پر احکامو برتري ورکړې ده. د باجوه دولت په پوره توګه په ملتپالنه کې ډوب دی، که څه هم دی د نړۍ د شپږم فوځي قوت رهبري پر غاړه لري، خو ادعا کوي چې له هند سره د اشغال شوي کشمیر پر سر د جګړې نه کولو موخه یې دا ده، چې پاکستان له بې وزلۍ او ورانۍ څخه وژغورل شي. په ورته توګه عرب چارواکي هم د نړۍ د لویو پوځونو مشري پر غاړه لري، خو د ملي ګټو لپاره له هند سره خپلې اړیکې ټینګوي. په واقعت کې همدا ملتپالنه د مسلمانانو اوسني چارواکي د اېغور، روهینګیا، فلسطین او کشمیر له خلکو سره مرستې کولو ته نه پرېږدي؛ په داسې حال کې چې د اسلامي امت میلیونونه سرتیري او افسران د شهادت یا بریا په تمه دي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له اسلامي ورورولۍ پرته د بل شي پر اساس اړیکې ټینګول ډېره لویه ګناه ده، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾**

[حجرات:۴۹]

*__ژباړه:__ مومنان یو د بل ورونه دي، نو د خپلو ورونو په منځ کې اړیکې سمې کړئ او له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږئ، چې رحم در باندې وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم له اسلام پرته نورې ټولې اړیکې رد کړې دي.*

**«مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عُمِّيَّةٍ يَدْعُو عَصَبِيَّةً أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَّةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ»**

(مسلم)

***ژباړه:*** *که چېرې يو څوک د يوه ړوند سړي تر بيرغ لاندې (د هغه د يوازينې دليل لپاره) مړ شي، چې د خپلې کورنۍ يا قبيلې د ملاتړ شعار ورکوي، نو په جهالت (ناپوهۍ) کې مړ شو.*

نو يوازې د خلافت په شتون کې اسلام زموږ ګټې او ارزښتونه ښکاره کولی شي او د نړۍ په هر ګوټ کې د مظلومو مسلمانانو اوښکې پاکولی شي. تاريخ يې شاهد دی، محمد بن قاسم له پاريس څخه له لښکرو سره يو ځای د هند په نيمه قاره کې د مسلمانانو پر وړاندې د ظلمونو د ختمولو لپاره وخوځېد؛ د کردستان صلاح الدين له مصر څخه د اقصی د ازادولو لپاره خپلې لښکرې روانې کړلې. په حقيقت کې ملتپالنې په اسلامي نړۍ کې د نفاق، ماتې او ذلت اور بل کړی دی، چې دغه اور يوازې د الله سبحانه و تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم لوري ته په بېرته راګرځېدلو سره له منځه تللی شي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾**

[ال عمران: ۱۰۳]

***ژباړه:*** *ټول يو ځای شئ او د الله سبحانه وتعالی په رسۍ منګولې ولګوئ، تيت او پرک مه کېږئ. د الله سبحانه وتعالی هغه پېرزوينه درياده کړئ چې پرتاسو يې کړېده. تاسو يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسو په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورينه تاسو سره ورونه شوئ. تاسو د يوې داسې کندې پر غاړه ولاړ وئ، چې له اوره ډکه وه، خو الله سبحانه وتعالی ترې وژغورلئ. په دې ډول الله سبحانه وتعالی خپلې نښانې تاسو ته ښيي او پکار ده چې په دغو نښانو سره خپله د ژغورنې لاره پيداکړئ.*

نو پرېږدئ چې مسلمانان د نبوت پر تګلاره د خلافت د بيا تاسيس لپاره خپلې هڅې وکړي.

**د حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۲/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر ۱۸مه**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۱۷مه**

**د فیسبوک لپاره:** د کشمیر په ستونزه کې د باجوه-عمران رژیم زړه نازړه توب او زموږ د پیاوړو ځواکونو ایسارل په دې مانا دي، چې د کشمیر مظلوم مسلمانان یوازې پرېږدي.